گفتمان ملی افغانستان

National Discourse on Afghanistan

دافغانستان ملي خبرې اترې

**غندن لیک**

**په افغانستان کې د ښځو د زده کړو د ځنډولو په هکله د ملي خبرو اترو د خوځښت غندن لیک!**

نېټه: کال 2022 د دسمبر 21 (د لیندی میاشتي 30 کال1401)

---

د اسلام سپېڅلي دین نارینه او ښځې د ژوند په چارو کې د ارادې او کار له لارې برابر ګڼي، نو ځکه د اسلام مبارک دین د علم حاصلول په نارینه او ښځینه دواړو واجبه ګڼي او د الله پاک په حکمونو کې د نارینه او ښځو تر منځ هیڅ توپیر نشته .

په ټول هغه آیاتونو کې چه د علم حاصلولو پورې اړه لري، پکې دواړه نارینه او ښځې شاملې دي.

د بشری حقونو نړیواله اعلامیه هم په دې باور ده چې بشری حقونه د جنسیت، ټولنیز تړاو او د بل هر حالت په پام کې نیولو پرته یو ډول دی .

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع کنوانسیون، د یوه نړیوال تړون په توګه، د نارینه او ښځو پر مساوي حقونو ټینګار کوي او د ښځو پر وړاندې تبعیض غندي.

د افغانستان اساسي قوانینو هم د ښځو او نارینه حق برابر ګڼلی دی.

**د پورتنیو اصولو پر بنسټ، د ښځو د زده کړې حق د دوی له بنسټیزو حقونو څخه دی او هیڅ دولت، واکمن یا سیاسي ځواک یې باید د زور له لارې مخنیوی ونه کړي.**

په افغانستان کې د ښځو زده کړه یو اوږد تاریخي ارخ لري.

خو د 2021 کال د اګست له 15 نیټي وروسته ،سمدستي د طالبانو لخوا د سیاسي واک د غصبولو سره جوخت،په یو سیاسی او ټولنیز پر شا تګه حرکت سره ، افغان میرمني او نجوني له زده کړو بې برخي شوې.

دا بدمرغه حالت نه یوازې دا چې د هیواد راتلونکې ودې ته زیان رسوي او د عصري علومو او ټیکنالوژۍ له پرمختګ سره هم سمون نه خوري، بلکې د افغانستان د ځوریدلي ولس په ځانګړې توګه د ښځو(د ټولنی نیمکي) پر روحیي او عاطفیي درووند ګزار دي..

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت** د خلکو د اساسي حقونو او په ځانګړې توګه د ښځو د مساوي حقونو د ملاتړي په توګه د طالبانو د کابینې دغه غیر عادلانه، غیر منصه او د اسلامي او بشري حقونو پر خلافه پریکړه په کلکو ټکو غندي او دا د دیني او دنیاوي تعلیماتو خلافه پریکړه ګڼي.

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت** دا پوښتنه را پورته کوي چې څنګه کولای شو د هېواد ،نیمایي نفوس په ایستلو سره د سوکالۍ او پرمختګ لاره خپله کړو او افغانستان د پرمختګ په لاره روان کړو؟

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت** په دې باور دی، چې په هېواد کې د ښځو د بشري حقونو خلاف دا ډول پرېکړې به په افغانستان کې د بشري حقونو کړکېچ لاپسې زیات کړي او د حکومت او خلکو ترمنځ به واټن زیات او د طالبانو د سرپرست حکومت د لا یواځې پاتې کېدو لامل به وګرځي، او د نړۍ والي ټولنې له خوا د هغه د په رسمیت پېژندو لارې به ډپې شي.

**په دې هیله چې ژر تر ژره په داسې غیر عادلانه او په ډاګه د ملي کتو ضد پریکړې باندې له سره غور وشي!**

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت د همغږۍ شورا.**

**********